خېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال ۲۰۲۵/۰۷/۰۶

# د «افغان» یو لرغونی یاد

## او یونیمزرکاله پخوا په سیمه کې د افغانانو دریځ

په هیندي سرچینو کې د سیمې د نورو ټبرونو تر منځ د «افغان» ټبر نوم یوه تر ټولو لرغوني موندل شوې یادونه د «بریهات سَمهیتا» (Bṛihatsaṃhitā) **बृहत्संहिता** په کتاب کې ده، چې په شپږمه میلادي پېړۍ کې کښل شوی دی. د کتاب د نوم تحت‌اللفظي مانا ده «لویه ټولګه». د دې کتاب لیکوال هیندي ریشي (شاعر)، منجم او پوه وراها میهیرا Varāhamihira دی، چې د ګوپتا واکمني کورنۍ پرمهال (۵۰۵ – ۵۸۷ میلادي) کې یې ژوند کاوه. کتاب په سانسکریټ ژبه کښل شوی او موضوع یې ستورپوهنه او د ستورپوهنې پر بنسټ د هوا حالاتو، باران، زلزلې، چاپېریالي بدلونونو ، ناروغیو او ان بخت و طالع د بیان پوهه ده. په کتاب کې د دې ترڅنګ د ښارجوړولو، ګیاه‌پېژندنې، د ژویو او ځارویو پوهنه، د عطرونو، قیمتي ډبرو، جواهرو، ښځو، ودونو، دودونو او خرافي مسایلو په اړه هم بحثونه شوي دي. په دې کتاب کې د هغه مهال طبیعي پوهنه له دودیزو تجربو او څه خرافاتي باورونو سره ګډه ده، خو مهم اړخ یې دا دی، چې د هغې زماني د هیندوستان په اړه ګڼ معلومات په کې موندلی شو، چې یو له هغو څخه هغه مهال د هیندوستان او څېرمه سیمو استوګن ټبرنه او قومونه دي. کتاب په بېلابېلو «شلوکانو» श्लोक (śloka) کې لیکل شوی دی. شلوک په سانسکریت ژبه یو ډول منظوم قالب دی، چې دیني و حماسي متون پرې کښل شوي دي. لویې حماسې رامایانا، مهابهاراتا، پوراناها او نور مهم اساطیري کتابونه هم په دې کالب کې کښل شوي دي. شلوک یا اشلوک ډېرمهال څلورمسریيز دي او څپیر خجیز جوړښت لري.

په دې کتاب کې د نورو ولسونو ترمنځ په ډېر وضاحت دوه ځله افغان ولس یاد شوی دی، چې دلته دواړه ځایه رانقلوو:

۱- د کتاب په یوولسم فصل کې یوشپېتم شلوک:

उल्काभिताडितशिखः शिखी शिवः शिवतरोऽतिवृष्टो यः।
अशुभः स एव चोलावगाणसितहूणचीनानाम् ॥६१॥

**انګریزي ژباړه:**

A comet whose crest has been hit by an Ulka (meteor) will prove auspicious; and if there be rain as soon as he is risen, it will be still more auspicious. The same will become unfavorable to the people of Chola, Afghans, the white Huns and the Chinese.

**پښتو ژباړه:**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

یو لکی لرونکی ستوری، چې څوکه‌یې له یوه ألکا (شهاب) سره لګېدلي وي، نېکمرغه به وي؛ او که اوربښت وي او ژر ورسره [لکی لرونکی ستوری] هم راڅرګند شي (راوخیژي) ، نو دا به لا هم ډېر ښه شګون ولري. دغه ښنه به د چولا خلکو، افغانانو، سپینو هونانو (هفتالیانو) او چینایانو لپاره بد فال ولري.
۲- د کتاب په شپاړسم فصل کې اته دېرشم او نهه دېرشم شلوک:

गिरिदुर्गपह्लवश्वेतहूणचोलावगाणमरुचीनाः ।
प्रत्यन्तधनिमहेच्छव्यवसायपराक्रमोपेताः ॥३८॥
परदारविवादरताः पररन्ध्रकुतूहला मदोत्सिक्ताः ।
मूर्खाधार्मिकविजिगीषवश्च केतोः समाख्याताः ॥३९॥

**انګريزي ژباړه:**

Ketu presides over mountain strongholds, the Pahlavas, Swetas, Huns, Cholas, Afghans, desert Chinese, the cavemen, rich men, highly ambitious persons, energetic men, those endowed with prowess, adulterer, disputants, those that take pleasure in others' misfortunes, persons elated with pride, fools, unrighteous people and men desirous of conquest.

**پښتو ژباړه:**

کېتو[۱] یا لکۍلرونکي ستوري (شهاب) د غرونو پر کلاګانو واک لري، همداراز په پهلویانو، سپین‌پوستو (سویتا)، هونانو، چولا، افغانانو، دښتي چینایانو، سمڅمېشتو، شتمنو، لانجمارو او لوړهمته کسانو، زورورو او پیاوړو، مېړنیو، زناکارانو، جنجالي کسانو، هغو چې د نورو په بدمرغیو خوشالي کوي، مغرورانو، ناپوهانو، بېدینه خلکو، او هغو نارینه‌وو باندې واکمن دی چې د فتحې او زبرواکۍ هیله لري.
په دې دواړو شلوکانو کې افغان د ( اوه‌ګانه Avagāṇa अवगाण) په بڼه راغلی دی. د کتاب انګریزي ژباړونکیو یې په انګریزي متن کې افغان لیکلي. زما په کتابتون کې د دغه کتاب هغه انګریزي متن شته، چې په ۱۹۴۶ کال کې په بنګلور کې خپور شوی دی. د کتاب ژباړن او شرح لیکونکی Panditabhushana V. Subrahmabya Sastri دی.[۲]
پوهاند عبدالحی حبیبي د دې کتاب یادونه په لاندې توګه کړې ده:
«د هندي منجم په کتاب کې: تر دې وروسته موږ د افغان نوم په یوه هندي کتاب بریهت سمیهتا کې وینو (یوولسم فصل ۶۱ مخ او شپاړسم فصل ۳۸ مخ) چې دغه کتاب یوه هندی منجم وه ره هه مي هیرا د شپږمې مسیحي پېړۍ په اوایلو کې لیکلی دی. دغه منجم هم اوه ګانه – آوه ګانه د پهلو او هیاطله‌وو په بحث کې یادوي او موسیو فوشه

---

۱ **کېتو (Ketu)** اسماني لکۍوال (دنباله‌دار) یا شهاب دی، په ویدي نجوم کې دغه له اسرارو او اغېزو ډک شهاب (Ketu) د سپوږمۍ سوېلي غوټه (South Lunar Node) هم بلل کیږي. په هیندي ستورپوهه (Jyotisha) کې، Ketu له Rahu سره یوځای د سپوږمۍ له دوه "غوټو" (چایا ګراها = سیوری ستوری) څخه شمېرل کېږيKetu . په ځانګړې ډول د سپوږمۍ د سوېلي غوټې نښه ده. او دا د کارما، روحانیت، تقوا، زهد، او له دنیاوي چارو د بېلتون نښه و رمز ګڼل کیږي. د نورو معلوماتو لپاره کتلای شئ:
( Rao, B. V. Raman. (1992). *Planetary Influences on Human Affairs*. Bangalore: Raman Publications.)

2 Varāhamihira. (1946). **Brihat Saṃhitā of Varāhamihira** (V. Subrahmanya Sastri & M. Ramakrishna Bhat, Trans.). Bangalore: V. B. Soobbiah & Sons. pp: 145, 182


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

فرانسوي محقق د خپل کتاب چې د هند قديمي لارې له باختر تر تکسيلا پورې نوميږي. د ۲۵۲ مخ په ۱۷ نوټ ( د پاريس طبع ۱۹۴۷) کې دا خبره را برسيره کړې ده. »[۳]
استاد حبيبي دوه ځله د دې کتاب يادونه د فرانسوي ختيځپوه موسيو فوشه Monsieur Alfred Foucher په حواله ليکلې ده.
پوهاند محمد حسن کاکړ د خپل کتاب «پښتون افغان او افغانستان» په ۱۲۷ مخ کې د هندي منجم کتاب ته اشاره کړې او په هغه کې يې د افغان د نوم ذکر ياد کړی دی.
ميرمحمدصديق فرهنگ په خپل کتاب « افغانستان در پنج قرن اخير» کې د سر اولاف کيرو د (دې پټانز) کتاب په حواله د دې سرچينې يادونه کړې ده، خو د کتاب نوم يې په ناسمه بڼه ( بهارت سميتها) ليکلی دی، حال دا چې کيرو د خپل کتاب په ۱۱۲ م مخ کې د کتاب نوم سم راوړی دی.
زه په دغه ليکنه کې غواړم د دواړو شلوکانو د متن تر څنګ د دغه کتاب له نظره د افغانانو تاريخي دريځ او د يو شمېر نورو هغو قومونو پېژندنه هم راواخلم چې په دواړو ځايونو کې له افغانانو سره يوځای ياد شوي دي.
داسې ښکاري، چې دا مهال افغانان له خپل قومي هويت سره دومره مشهور ول، چې د نورو مهمو او زوروړو قومونو ترمنځ په هيند کې پېژندل کېدل. څو نور قومونه چې په دواړو شلوکانو کې له افغانانو سره ياد شوي، په لاندې ډول پېژندلای شو:
**چولا :** له افغانانو سره ترڅنګ دواړه ځايه د چولا يادونه شوې ده. چولا د( پانديا) او (چېرا) تر څنګ د تاميل لوی ټبر له دريګونو پښو څخه يوه پښه ده، چې د هيند په جنوبي څنډو کې ژوند کوي. دوی هيندوستان ته د اريايي ټبر تر مهاجرت وړاندې هلته اوسېدل او د دراويدينو يوه څانګه ده. چولا يو پياوړی ولس و، چې د ورها ميهيرا تر يادونې ځلور پېړۍ روسته يې لويې واکمنې رامنځته کړې دي. ستر راجا راج او زوی يې راجندرا چولا يې مشهور واکمن وو، چې د برما تر سواحلو پورې يې د هيند سمندر او تاميل ميشتې زمکې په واک کې وې.[۴]
چولايان په تېره بيا د ( ويجايانګارا) د واکمنې پرمهال په هنر، معمارۍ، ډبرتوږنه، مجسمه جوړونه او نورو پوهنو کې خورا مشهور وو. په کانچې او نورو ښارونو کې يې د هنر و معمارۍ ګڼې نښې راپاتې دي.
**سپين هونان:** په دواړو ځايونو کې د افغانانو ترڅنګ د سپينو خلکو، سپينو هونانو، هونانو يادونه شوې ده. هپتاليان، چې سپين هونان يې هم بولي، په زړه اريايي ژبه کې يې *Spet Xyon* او په سانسکرت و پراکريت کې د *huna Sveta-* په نومونو ياد شوي دي. دوی هغه قوم و، چې تر اتمې ميلادي پېړۍ پورې يې په منځنۍ اسيا کې ژوند کاوه. دوی ته اريايي هونان هم وايي.
هپتاليانو په ۴۵۰ ميلادي کې تر کيداريانو روسته او تر ۵۶۰ ميلادي پورې د افغانستان په شمال او منځنۍ اسيا واک درلود. راروسته تخاري واکمنې د همدې لړۍ نورې کړۍ وې، چې واکمنې يې تر ۶۲۵ پورې راوغځېده. تخاريان او ييغويان د هپتالي واکمنيو ځايناستي ول. د ميهيرا په متن کې له سپينو خلکو Swetas څخه موخه همدغه تخاريان دي.[5]
**پهلويان** Pahlavas ،
پهلويان هغه اريايي قبايل و، چې په لومړنيو ميلادي پېريو کې د هيندوستان شمال‌لويديځ ته ورکډه شول. هغوی له پارتيانو سره نږدې خپلوي لرله، په ځينو متونو کې دوی له پارتيانو، ساکانو او اشکانيانو سره همتېره ګڼل شوي دي. دوی د هيند د شمال لويديځ په سېند او پنجاب کې واک وموند او هلته يې په سياستونو، فرهنګ او حکومتولۍ کې لويه ونډه لرله .[6]
دغه اريايي ډله روسته د کوشانيانو او ګوپتا کورنيو په سروالۍ واک ته ورسېدل. د دغې زمانې په کتيبو او ادبي متونو کې يې دوی ته پهلويان ويل.[۷]

---

[۳] **جغرافياى تاريخي افغانستان**، پوهاند عبدالحی حبيبي، انتشارات ميوند، دريم چاپ ۱۳۸۲ ، کابل، ۱۸۱ مخ.

[۴] **سرزمين هيند**، علی‌اصغر حکمت، تهران: چاپخانه مجلس شورای ملی، ۱۳۳۷. ص ۵۲

[5] Alexander Cunningham, 8-**Ephthalites-or-White-Huns**-AC-TICO-London-1892, p: 222

[6] Basham, A. L. (1954). **The Wonder That Was India**: A Survey of the Culture of the Indian Sub-Continent Before the Coming of the Muslims*. London: Sidgwick & Jackson. p: 61

[7] Nilakanta Sastri, K. A. (1955). **A History of South India**: From Prehistoric Times to the Fall of Vijayanagar*. London: Oxford University Press. pp: 91- 93


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دغه پهلویان نه ښايي د پالاوا Pallavas له کورنۍ سره مغالطه شي، چي په کانچي کي یي د چولایانو سره همهاله د واکمنۍ لړۍ راجوړه کړي وه.

**چینایان** بله ډله چي له افغانانو سره دواړه ځله یاده شوي، چینایان دي. داسي ښکاري چي د ویرامیهیرا پرمهال چینایان هم د هیندوستان واکمنۍ ته یو ګواښ ګڼل کېدل.

په دې توګه ګورو، چولایان له جنوب ځخه، افغانان له لویدیځ و شمال لویدیځ ځخه، هپتالیان له شمال و شمال لویدیځه، پهلویان له لویدیځ او چینایان له ختیځ و شمال ځخه د ګوپتا واکمنۍ لپاره مهم خلک ښکارېدل. د «بریهات سَمهیتا» لیکوال وراها میهیرا د ګوپتا کورنۍ په دربار کي مخور او منل شوی ریشي و، ځکه یي په خپل نجومي محاسبو کي د نورو قومونو ترڅنګ افغانان هم داسي یو ولس ګڼلی، چي د هغه په نظر د لکۍلرونکیو ستورو او شهابونو د راپریوتو پرمهال به د دوی لپاره ناورینونه رامنځته شي.

یونیم زر کاله وړاندې د چینایانو، تامیلیانو، هونانو او پارس‌مېشتو پهلویانو ترڅنګ په دې سیمه کي د افغانانو ځای او دریځ په زړه‌پوري دی.

لاندې د وراها میهیرا د کتاب دوه هغه مخونه لیدلای شئ، چي د «افغان» نوم په کي یاد شوی دی.

Adh. XI. Sl. 61-62] एकादशोऽध्यायः 145

lord of the Kekayas; 2. of the Panchanadas; 3. the lord of the Simhala; 4. the lord of the Vangas; 5. the king of the Naimisha country; 6. the Chief of the Kiratas.

उल्काभिताडिताशिखः शिखी शिवः शिवतरोऽतिवृष्टो यः।
अशुभः स एव चोलावगाणसितहूणचीनानाम् ॥६१॥

*Sloka 61.* A comet whose crest has been hit by an Ulka (meteor) will prove auspicious; and if there be rain as soon as he is risen, it will be still more auspicious. The same will become unfavourable to the people of Chola, Afghans, the white Huns and the Chinese.

अतिदृष्टः is another reading in the 1st line.

नम्रा यतः शिखिशिखाभिसृता यतो वा
ऋक्षं च यत् स्पृशति तत्कथितांश्च देशान्।
दिव्यप्रभावनिहतान् स यथा गरुत्मान्
भुङ्क्ते गतो नरपतिः परभोगिभोगान् ॥६२॥

*Sloka 62.* Note the quarters where the crests of the comets are bent or crooked, where they are projecting; also the asterisms hit or touched. The rulers of the countries denoted by or situated in these will be defeated through superhuman power by a foreign king who takes possession of all the pleasures enjoyed by them so far, just as Garuda destroys and feasts on the bodies of the serpents which are his enemies.

तथा च पराशरः
यस्यां दिशि समुत्तिष्ठेत्तां दिशं नाभियोजयेत्।
यतः शिखा यतो धूमस्ततो यायान्नराधिपः॥
प्रतिलोमे यतः केतोर्जयार्थी याति पार्थिवः।
सामात्यवाहनबलः स नाशमधिगच्छति॥
बृ. सं. 19


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ungrateful men, thieves, faithless, dirty and stingy persons, donkeys, spies, duelists, wrathful persons, children in the womb, low people, reprobates, hypocrites, giants, all sleepy beings, lawless men, black gram and sesamum.

तथा च काश्यपः ।
बुभुक्षितास्तीक्ष्णरोषा विभिन्नाः कुलपांसनाः ।
नीचा म्लेच्छोत्सादकाश्च गर्त्तस्थाः पारदारिकाः ॥
सत्यधर्मविहीनाश्च गिरिस्थाः कन्दराश्रिताः ।
प्रतापसत्यहीनाश्च शृगालादा महाशनाः ॥
तिलाश्च बाहुयुद्धज्ञा माषाश्चौराः खराश्चराः ।
यज्ञान् हिंसन्ति ये नित्यं राहुस्तेषामधीश्वरः ॥

गिरिदुर्गपह्लवश्वेतहूणचोलावगाणमरुचीनाः ।
प्रत्यन्तधनिमहेच्छव्यवसायपराक्रमोपेताः ॥३८॥
परदारविवादरताः पररन्ध्रकुतूहला मदोत्सिक्ताः ।
मूर्खाधार्मिकविजिगीषवश्च केतोः समाख्याताः ॥३९॥

*Slokas 38-39.*—Ketu presides over mountain strongholds, the Pahlavas, Swetas, Huns, Cholas, Afgans, desert, Chinese, the cavemen, rich men, highly ambitious persons, energetic men, those endowed with prowess, adulterer, disputants, those that take pleasure in others' misfortunes, persons elated with pride, fools, unrighteous people and men desirous of conquest.

तथा च काश्यपः ।
प्राकाराभ्युच्छ्रिताः शृङ्गगिरिस्था विजिगीषवः ।
प्रत्यन्तवासाभिरताः परच्छिद्रविशारदाः ॥
मूर्खा विज्ञानहीनाश्च निर्मर्यादा नरास्तथा ।
परदाररता नीचाः केतोरिति विनिर्दिशेत् ॥

तथा च समाससंहितायाम् ।
भानोरङ्गकलिङ्गवङ्गयमुनाः श्रीपर्वताः पारता
वाह्लीकोत्कटसुह्मशोणमगधाः प्राङ्नर्मदा द्वारिकाः ।


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ